Office of Deputy PM for Economic Affairs
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت

# د افغانستـان اقتصـادي پـرمختگ

## خبرپاڼه

درېیم کال - ۲مه ګڼه | پرله‌پسې ۶۴مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۵/۰۱/۲۰



په افغانســتان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصــادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېـږي. د افغانســتان اقتصادي پرمختـګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروســتیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- د افغانۍ د ارزښت لوړوالی؛ د پولي ثبات مهمه نښه

۲- د ازبیکستان پانګونه؛ د درملو سکتور کې د ځان بسیا کېدو فرصت

۳- افغانستان او قرغیزستان؛ یو میلیارد ډالرو ته د سوداګرۍ رسېدو هدف

# د افغانۍ د ارزښت لوړوالی؛ د پولي ثبات مهمه نښه

د افغانستان بانک د عالي شورا وروستی غونډه د هېواد د پولي او بانکي وضعیت د ارزونې له پلوه مهم پرمختګ بلل کېږي. د افغانستان بانک د معلوماتو له مخې، افغانۍ د ۱۴۰۴ کال په جریان کې د امریکايي ډالر پر وړاندې ۱۰٫۷۷ سلنه ارزښت لوړ کړی دی. دا بدلون په داسې حال کې رامنځته کېږي چې د نړۍ او سیمې ډېری اسعار د بې ثباتۍ او ارزښت د کمېدو له ستونزو سره مخ دي.

د ملي اسعارو ثبات د هر هېواد د اقتصاد اساسي شاخص ګڼل کېږي. کله چې ملي اسعار ثبات ولري، د وارداتو بیې کنټرولېږي، د پانګوالو باور لوړېږي او د بازار فضا مثبته وي. د افغانۍ د ارزښت لوړوالی ښيي چې پولي سیاستونه تر ډېره بریده توانېدلي د اسعارو بازار کې تعادل وساتي. په همدې غونډه کې د بانکي سکټور د شتمنیو د زیاتوالي راپور هم وړاندې شو. د ۱۴۰۴ کال په جریان کې د بانکونو ټولیزې شتمنۍ ۴٫۶۹ سلنه لوړې شوې دي. دا زیاتوالی د بانکي نظام د ثبات، د سپما او د خلکو د باور مهمه نښه ګڼل کېږي. د بانکي سکټور پیاوړتیا په اقتصادي فعالیتونو مستقیم اغېز لري، ځکه بانکونه د پانګونې او سوداګرۍ د تمویل مهمه سرچینه ده. په ټوله کې د افغانۍ د ارزښت لوړوالی، د بانکي شتمنیو زیاتوالی او د مالي خدماتو پراختیا هغه مثبت اقتصادي شاخصونه دي چې کولی شي د اقتصادي ثبات، پانګونې او سوداګرۍ له پاره مناسبه فضا نوره هم پیاوړې کړي.



# د ازبېکستان پانګونه؛ د درملو سکتور کې د ځان بسیا کېدو فرصت

د ازبیکستان د درملو اداري مشر عبدالله عزیزوف د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي سره لیدنه کې ویلي چې د دغه هېواد سوداګر او پانګوال افغانستان ته د درملو وارداتو او دې برخه کې پانګونې له پاره چمتو دي. د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ د درملو په سکتور کې د پانګونې نوې لېوالتیا د افغانستان روغتیا سکتور د پراختیا له پاره مهم فرصت دی. د درملو سکتور د هر هېواد د اقتصادي او ټولنیز ثبات له مهمو برخو څخه دی. افغانستان اوسمهال د درملو برخه کې تر ډېره حده په نورو هېوادونو متکي دی، چې دا کار د اسعارو د وتلو لامل کېږي. که په کور دننه د درملو تولید او یا ګډه پانګونه پیاوړې شي، نو دا به د درملو وارداتو د کچې په کمېدو مثبت اغېز ولري او د روغتیايي خدماتو لګښت به هم راکم کړي.



دغه راز، د ازبېکستاني پلاوي له لوري د لابراتواري تجهیزاتو د برابرولو او د کارکوونکو د ظرفیت لوړولو وړاندیز ځانګړې اهمیت لري. د درملو د کیفیت کنټرول او معیاري تولید د نړیوالو معیارونو د پوره کولو له پاره اړین شرط دی. که په هېواد کې قوي لابراتوارونه جوړ شي، نو د درملو کیفیت به ښه شي او د خلکو باور به هم لوړ شي. دا دوول اقتصادي همکاري یوازې سوداګریز ارزښت نه لري، بلکې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو د پیاوړتیا سبب هم ګرځي. بهرنۍ پانګونه کولی شي د ټرانزیټ، سوداګرۍ او ګډو صنعتي پروژو له پاره زمینه برابره کړي. د ازبېکستان له لوري د درملو سکتور کې پانګونه د افغانستان له پاره د ځان بسیا کېدو، د کارموندنې د رامنځته کېدو او د اقتصادي اړیکو د پراختیا یو مهم فرصت بلل کېږي.

## افغانستان او قرغیزستان؛ یو میلیارد ډالرو ته د سوداګرۍ رسېدو هدف

د افغانستان اسلامي امارت د صنعت او سوداګرۍ وزیر نورالدین عزیزي په کابل کې د قرغیزستان د بهرنیو چارو وزارت له مرستیال توسنکلوف سره لیدلي دي. دې لیدنه کې ټینګار شوی چې دوه اړخیزه سوداګري باید یو میلیارد ډالرو ته لوړه شي. د افغانستان او قرغیزستان ترمنځ د سوداګرۍ د پراختیا هڅې د اقتصادي اتصال د پیاوړتیا له پاره مهم ګام ګڼل کېږي. منځنۍ اسیا د افغانستان له پاره د صادراتو او وارداتو مهم بازار بلل کېږي. د افغانستان او قرغیزستان ترمنځ کلتوري نږدېوالی او ګډ ارزښتونه د اقتصادي اړیکو له پاره مثبت چاپېریال برابروي. د دواړو لورو د لوړ پوړو مسوولینو سفرونه او مشورتي غونډې د سوداګرۍ د خنډونو د کمولو او د نویو فرصتونو د پېژندلو له پاره مهم رول لري. د سیمې له هېوادونو سره د سوداګرۍ زیاتوالی د ټرانزیټ او پانګونې له پاره نوي فرصتونه رامنځته کوي. افغانستان د سویلي او مرکزي اسیا ترمنځ د وصل نقطه بلل کېږي او له دې جغرافیوي موقعیت څخه ګټه اخیستل کولی شي د سوداګرۍ کچه کې د پام وړ لوړوالی راولي. که د سوداګرۍ د اسانتیاوو، ټرانزیټي لارو او ګډو اقتصادي پروژو په برخه کې عملي ګامونه واخیستل شي، نو د یو میلیارد ډالرو سوداګرۍ هدف ترلاسه کول ممکن او عملي ښکاري. دا پرمختګ به د افغانستان د صادراتو پراختیا، د عوایدو زیاتوالي او د سیمه ییز اقتصادي ادغام برخه کې مهم رول ولوبوي.

